


دکتور حبیب الله تږی

دې یو ځائے لیکي: ((د سبا ناري په وخت د کلي د ماجت ملا راغے او په فارسي ئې خبرې راسره پېل کړې. څهٔ رنګه چې مُلا ته معلومه شوې وه چې زهٔ له هند نه راغلے یم نو په خاص ډول دې ته لېوال ؤ چې د افغانانو (یعني هغه چا) په باره کښې معلومات تر لاسه کړي چې دهٔ اورېدلي وو چې د هند تر ټولو نه جنګیالي خلق دي او قبیلې ئې په دې افتخار کاوهٔ چې له هغوي (افغانانو) سره له یوهٔ نسله دي.)) کېپل خبرې ته دوام ورکوي او لیکي ((د شیروان په ولایت او شاوخوا سیمو کښې ځائي خلقو د خپل اصل او نسب په باره کښې داسې پوښتنې رانه کولې چې په یادو نهٔ ارزي او دا ځکه چې له عام ذهنیت سره اړخ لګوي او هغه دا چې د لرغوني البانیا (شیروان) د یوې سیمې خلق د هند د تاتارانو هغه قبائل جوړوي چې د افغانانو په نامه یادېږي... زما په یادداشتونو کښې یو مطلب دے چې له داسې یو کتاب نه مې رااخستے چې اوس ئې نوم نهٔ راځي. مطلب دا دے... لرغونو البانیانو خپل هېواد ترکانو ته ورخوشے کړ... او دوي خپله د افغانانو یا هغه ملت جوړ کړ چې ارمنیان ئې خپل ورونه بولي. البته ژبې ئې اوس فرق لري. خو دا د ژبو فرق په ډېره اسانه پېښېدلے شي.(٤٠)

بیلیو هم یو ځائے افغانان د اصل او نسب په لحاظ له ارمنیانو سره تړي او حتیٰ د ((افغان)) لفظ هم د ارمنیانو د ((اغوان)) یو نوے شکل بولي. دې ((د افغانستان د قوم پېژندنې مطالعه کښې)) د پښتنو د بیلو بیلو قبائلو او اقوامو د اصل او نسب په باره کښې د ډېر اوږدهٔ بحث نه وروستو وائي: (پښتانهٔ د هغوي د خپلې عنعنې په اساس له لرغوني یوناني مؤرخ هیروډوټس نه تخمین یوه نیمه پېړۍ او له لرغوني یوناني جغرافیه پوه سترابو نه تقریباً څلور نیمې پېړۍ پخوا غور کښې اوسېدل. خو کوم قومونه چې د دغو دریو تنو یوناني مؤلفینو په خپلو آثارو کښې د غور او شاوخوا او د لرغوني آریانا په نورو برخو کښې یاد کړي دي. مونږ ئې د پښتنو له اوسنیو اقوامو سره د نومونو د شباهت او مطابقت په اساس د ټولو څرک ولګاوهٔ. مګر د دغو دریو لرغونو مؤلفینو په آثارو کښې هیڅ داسې قومي نوم نهٔ دے راغلے چې هغه دې افغان سره مشابهت او مطابقت ولري. حتیٰ خپله پښتنو هم په

خپله قومي شجره کښې د افغان په نامه کوم قوم يا اولس نۀ دے ياد کړے. بيليو خبرې ته دوام ورکوي او وائي، عربان د مخه تر دې چې د خپلو فتوحاتو په لړ کښې افغانستان ته ورسېږي. د «اغوان» يا «اوغان» له نامۀ سره د ارمنستان د غرنيو خلقو په مفهوم، بلد وو. نو کله چې د پښتنو غرني ملک «غور» ته ورسېدل، پښتانۀ ئې هم د اوغان يا افغان يعني غرنيو خلقو په نامه ياد کړل. خو بيليو وائي دا امکان هم شته چې د غور پښتانۀ خپلو ګاونډيانو د عربو له وررسېدلو نه د مخه افغانان بللي وي او بيا عربانو هم په هم دې نامه ياد کړي وي.

بيليو وائي کۀ خبره داسې وي نو سړے دې نتيجې ته رسېږي چې د غور اوسېدونکي اصلاً له ارمنستان نه راغلي «اغوانان» وو او له يهودانو او د غور لـه ځائي اوسېدونکو سره ئې يوه ګډه او واحده ټولنه جوړه کړې وه. (۴۱)

بيليـو پـه هـم دې ارتبـاط د پښـتون او پښتونخوا په کلمو هم ښائسته اوږد بحث کوي او په دې لړ کښې وائي چې د پښـتون کلمـه اصلاً لـه فارسي «پشته» نه راوتې ده. دې وائي «پشته» په فارسي کښې د غونډۍ يا غرۀ معنا لري. څۀ رنګه چې پښتانۀ په «پشـته» يا غرۀ کښې اوسېدل نو د پښتنو يا غرنيو خلقو په نامه ياد شول او هېواد ئې پښـتونخوا يعني د پښـتنو ملک وبلـل شو. خو د بيليـو دا تعبيـر د دۀ د خپـل ذهـن او تصـور مولـود ښکاري. ځکه مونږ پوهېږو چې په فارسي کښې غرۀ ته «پشته» نۀ وائي. بلکې «کوه» ورته وائي او په يو شمېر زړو ايراني ژبو کښې هم دا کلمه تقريباً په هم دې شکل راغلې ده. مـثلاً پـه پهلوي کښـې دا



کلمه کوف Kof په اوستا کښې کوفه Koafa او په زړه فارسۍ کښې کوفه Kaufa ده. (۴۲)

په پښتنو کښې البته کوه ته غر وائي او د افغانستان د ځينو ځايونو په نومونو کښې هم د غر ريښه په يوۀ يا بل شکل شته. لکه ګرديز، غرجستان يا غرشستان، غور او ښائي نور. نو کۀ په لرغونو وختو کښـې د پښـتنو ګاونډيانو او يـا وطنـدارانو غوښتي وې چې پښتانۀ د غرنيو خلقو په نامه ياد کړي، هرومرو به ئې د کوهستانيانو يا غرستانيانو يا ګرستانيانو او يا کوم بل داسې نامه ياد کړي وې چې د کـوه يـا غـر يـا ګـر ريښـه بـه پکښـې وې او د پښتنو ملک به ئې هم البته کوهستان يا غرستان او يا دې ته ورته يو شے بللے وې.

يو شمېر نورو غربي ليکوالانو هم دا نظريه منلې چې افغانان ارمنيان دي. (۴۳) خو د دوي ټولو خبره پـه هغـه روايـت بنـا ده چې د کروسنسـکي پـه خـاطراتو کښـې راغلې او وائي چې پښـتانۀ د ګـوډ تېمور په وخت کښې له ارمنستان نـه د افغانسـتان د قندهار سيمې ته لېږدول شوي دي.

معتبـر تحریـري اسـناد د کروسنسـکي دا خبره په قاطع ډول فسخ کوي دا اسناد چې تفصیل ئې د دې لیکنې په څلورم فصل کښې راغلے دے، په ښېخي صراحت او وضاحت وائي چې د تېمور د یرغلونو په وخت کښې په ننني افغانستان کښې پښتانهٔ یو آباد اولس دے او تېمور څو څو واره یرغلونه پرې کړي دي او ډېر زیات ئې ورنه وژلي دي حتٰی یو شمېر ډېر پخواني اسناد، لکه د بېروني، عتبي، ابن اثیر او نورو لیکنې او د غزنویانو د وخت د څنو شاعرانو اشعار، دا ښیي چې پښتانهٔ له ګوډ تېمور نه څو سوه کاله د مخه د ننني افغانستان له بیلو بیلو سیمو نه ښولي بیا د اباسیند تر غاړې پورې میشته او اباد دي. وروستو به وښیو چې دوي په دې سیمو کښې له دومره پخوا نه اباد دي چې له تېمور نه ډېر پخوا یوه ښائسته لویه سیمه ورته منسوبه او د «افغانستان» په نامه یاده شوې ده.

څنو غربي لیکوالانو بیا پښتانهٔ د ارمنیانو تر څنګه له ګرجیانو سره هم تړلي دي. یو له دغو لیکوالانو نه Clairaut کلېرات دے. کلېرات وائي دهٔ ته یوهٔ ګرجي چې جوزف نومېدهٔ وئیلي دي چې افغانان په دې عقیده دي چې د نوح پېغمبر زوي یافث، درې زامن لرل چې نومونه ئې ارمن، اغوان او کردون وو او ارمنیان، اغوانان او ګرجیان په ترتیب سره د هم دوي اولادهٔ او اغوانان بیا وروستو له ارمنستان نه د سلېمان غرونو ته لېږدېدلي او دا اوسنے افغان اولس ئې جوړ کړے دے. (٤٤)

دا او هغه نور مطالب چې مونږ تر دې ځایه راواخستل، په اصل کښې تول یا په عنعنوي روایاتو بنا شوي دي او یا په عادي مشاهداتو. اما کومې اصولي او دقیقې څېړنې چې د پښتنو د تاریخ، ژبې او اجتماعي خصوصیاتو په باره کښې د نولسمې پېړۍ له اوائلو نه را دې خوا تـه شوي دي، د هغو په نتیجه کښې دا نظریات رد شوي دي. نوې څېړنې پښتانهٔ د اصل او نسب په لحاظ آریایان او د هندو اروپائي کورنۍ د هغې سترې څانګې غړي بولي چې د هندو ایراني په نامه یادېږي.

وړومبنے غربي مؤلف چې د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې ئې عنعنوي روایات په کلکه رد کړل، هغه منستورات الفنستن دے. د الفنستن معروف کتاب، د کابل سلطنت چې آن په کال ۱۸۱٤ کښې لیکل شوے دے د پښتنې تولنې د اصولي مطالعې په برخه کښې داسې دقیق او نفیس اثر دے چې تر اوسه ئې سارے نهٔ دے لیکل شوے.

الفنستن د خپل اثر یو بحث د پښتنو د اصل او نسب مطالعې ته وقف کړے دے. دې په دې برخه کښې وړومبے هغه عنعنوي روایت رااخلي چې پښتانهٔ بني اسرائیل ګڼي او بیا وائي د دغه روایت د بطلان دلائل خپله په هم دې روایت کښې پراتـهٔ دي. ځکه دې وائي دا روایت ساول (ملک طالوت) د ابراهیم پېغمبر پینځهٔ څلوېښتم پښت ګڼي او قبص د ساول اووهٔ دېرشم پښت بولي. خو دې وائي د دې دوو تکو اول له مقدس کتاب، تورات سره قطعاً اړخ نهٔ لګوي او دوهم تکے ئې

منطق نهٔ مني ځکه یواځې اووهٔ دېرش پښته شپاړس سوه کاله نهٔ کېږي. (۴۵)

الفنستن هم دلته د ویلیم جونز هغه تبصره هم یادوي چې اسیائي څېړنو په خپرونه کښې ئې د ونستارټ په ترجمه کړې او مونږ په هم دې بحث کښې د مخه رااخستې ده. الفنستن هغه ځلور دلیلونه چې جونز د خپلې ادعا د ملاتړ دپاره وړاندې کړې دي یو یو په مستدل ډول ردوي او وائي:

«د افغانانو او یهودیانو د دود او دستور تر منځ ډېر شباهتونه ښودل کېدلې شي. خو دغه راز شباهتونه د بیلو بیلو اولسونو د اجتماعي ژوند په عېن مرحله کښې معمول وي او کهٔ دا ټکے د قومونو ترمنځ د عېنیت دلیل وي نو بیا کېدے شي چې تاتاران، عربان، جرمنان او روسان ټول یو شے وي.» (۴۶) په دې ډول الفنستن دا نظریه چې پښتانهٔ بني اسرائیل دي غوځه ردوي.

الفنستن هم دلته دا نظریه هم ردوي چې پښتانهٔ اصلاً قفقازیان دي. دې په دې ارتباط لیکي «له یوهٔ نه زیاتو اروپایانو دا عقیده هم څرګنده کړې ده چې افغانان د قفقازیانو یوه قبیله او په خاص ډول د ارمنیانو اولادهٔ ده. خو خپله پښتانهٔ هېڅ کله هم ځانونه د ارمنیانو له نسله نهٔ بولي. اما ارمنیان دا خبره کوي.» الفنستن وروستو له یو څهٔ بحث نه لیکي: «زهٔ د دې دپاره هېڅ دلیل نهٔ وینم چې افغانان له غربي قفقازیانو سره وتړم. البته یو جرمني چې نوم ئې راته نهٔ راځي دا خبره کړې ده چې په تېره پېړۍ کښې ئې هلته افغانان لیدلي دي خو دا خبره د هېڅ شي د ثبوت دلیل نهٔ شي کیدلې. (۴۷)

جان ملکم هم د فارس په تاریخ کښې هغه روایت ردوي چې وائي پښتانهٔ بني اسرائیل دي او لیکي « هیڅ داسې کومه کتیبه نهٔ ده پیدا شوې چې دا عقیده تائید کړي چې پښتانهٔ د یهودیانو له نسله دي او د دوي خپله مبهمه عنعنه په داسې یوه موضوع کښې د مسلم حقیقت په حېث نهٔ شي منل کېدلې. (۴۸)

اما کوم غربي مؤلف چې د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې ئې وړومبے ځل ډېره وسیعه او دقیقه اصولي څېړنه وکړه او په نتیجه کښې ئې د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې عنعنوي روایت رد کړل هغه ستر مستشرق او د بشري علومو لوئے عالم برناډ ډورن دے چې د خپل علمي ژوند یوه لویه برخه ئې د پښتنو د ژبې او تاریخ مطالعې ته وقف کړې ده.

ډورن د خپلو ډېرو نورو کارونو تر څنګه د خواجه نعمت الله هروي تاریخ «خانجهاني و مخزن افغاني» په انګرېزۍ ترجمه کړې او په لندن کښې ئې په کال ۱۸۳۶ کښې چاپ کړے دے. دهٔ په دې ترجمه یو لړ ډېر پاخهٔ او ارزښتناکه یادداشتونه لیکلي او له کتاب سره ئې ضمیمه کړې دي. ډورن د هم دې یادداشتونو په یوه برخه کښې د هغه روایت په ارتباط چې پښتانهٔ بني اسرائیل بولي داسې لیکي:

«دا چې د فارسي ژبې مؤرخین پښتانهٔ د یهودو له نسله ګڼي دا پرته له یوې خبرې نه د کوم بل شي ثبوت نهٔ شي کېدے او هغه دا چې دا لیکوالان روایات، پرته له دې چې ماهیت ئې معلوم کړي، د

خپل دود په اساس د مسلمو حقائقو په توګه ثبتوي. (۴۹)

دغه راز ډورن وائي دا چې افغانانو او یهودیانو نومونه سره یو شی دي، د دې دلیل دا دی چې افغانان مسلمانان دي. د مسلمانانو او یهودیانو ډېر نومونه مشترکه تاریخي او قومي منبع لري. دا چې د افغانانو څهرې ښخې یهودیانو ته ورته دي. دا هم د دې دلیل نهٔ شي کېدی چې پښتانهٔ د یهودیانو له نسله دي. ډورن د دې خبرې د تائید دپاره د جان ملکم دا عبارت رااخلي چې «کهٔ د دوو اولسونو د څهرو سره ورته والی د دې دلیل کېدی شي چې هغوي دې له عېن نسله وي، هلته نو بیا کېدی شي چې کشمیریان هم د خپلو څهرو له امله د یهودیانو له نسله وبلل شي. ځکه یو شمېر عربیان کشمیریان هم کټ مټ یهودیانو ته ورته بولي. (۵۰)

ډورن د هغه روایت په رد کښې چې وائي پښتانهٔ د بېت المقدس له شاوخوا سیمو نه افغانستان ته تللي دي، وائي پښتانهٔ له کوم بل ملک نه افغانستان ته نهٔ دي تللي. بلکې لکه څنګه چې سر ویلیم جونز وائي «د لرغوني پارو پامیزاد (یعني مرکزي افغانستان او شاوخوا سیمو) اصلي او ځائي اوسېدونکي دي. ډورن وائي «تاریخ دا ثابته کړې ده چې د غزنوي سلطان محمود د واکدارۍ په وخت کښې او تر هغهٔ نه ډېر پخوا دوي (افغانان) په هغو کلاوو کښې اباد وو چې تر اوسه پکښې میشته دي. (۵۱) یو شمېر معتبر اسناد چې زمونږ د دې لیکنې په څلورم فصل کښې راغلي د ډورن د دې ادعا مؤید دي.

ډورن هغه روایت او نظریات هم ردوي چې پښتانهٔ ارمنیان بولي او وائي کهٔ سړی د ارمني اغوانانو تاریخي سوابق د سېنټ مارټن په هغه اثر کښې ولولي چې د ارمنستان خاطرات نومېږي نو سمدستي به په دې قانع شي چې ارمني اغوانان او پښتانهٔ یا افغانان یو شی نه بلکې دوي بېخي سره جلا اولسونه دي. (۵۲)

ډورن د ځنو غربیانو دا نظر هم چې وائي پښتانهٔ له اصله ګرجیان دي او ګرجي ژبه وائي، بېخي بې اساسه بولي او وائي چې په هیڅ غور نهٔ ارزي. (۵۳)

ډورن په پائې کښې پښتانهٔ د هندو اروپائي اولسونو د ستري کورنۍ غړي بولي مګر په عېن وخت کښې ئې یو ځان ته لرغوني اولس ګڼي او لیکي «زهٔ دا خبره منم چې افغانان به د هغې ستري کورنۍ غړي وي چې جرمنیان، هندیان، سلوانیان او یونیانیان ورپورې مربوط دي خو لکه چې څنګه مونږ د دې دپاره هیڅ تاریخي ثبوت نهٔ لرو چې وښیو یونانیان یا جرمنیان د هندیانو اولادهٔ ده، دغه راز دا هم په یقین سره نهٔ شو وئیلی چې افغانان د لرغونیو فارسیانو یا هندیانو اولاده ده. (۵٤)

په دې برخه کښې د ډورن او جان ملکم نظر تقریباً سره یو دی. ملکم هم وائي چې د افغانانو له عاداتو نه دا سې ښکاري چې دوي له فارسیانو، تاتاریانو او هندیانو نه جلا او متفاوت خلق دي. (۵۵)

دا وو هغه د یادونې وړ روایات او نظریات چې د پښتنو د اصل او نسب په باره کښې په شرقي

او غربي آثارو کښې زمونږ له نظره تېر شوي وو او دلته مو څومره چې ممکنه وه په هغه هومره مختصر خو داسې شکل راواخستل چې په مفهوم کښې ئې څۀ بدلون را نۀ شي.

په پايې کښې بايد ووئيل شي چې په معاصر وخت کښې پوهانو د يوۀ اولس د اصل او نسب د معلومولو يوه ښه لار د هغه اولس د ژبې د اصل او ريښې د ماهيت څرګندول ګڼلي او د پښتو ژبې په باره کښې هم په دې ارتباط کافي څېړنې شوې دي. نو زمونږ د دې ليکنې دا بل فصل به د هم دې څېړنو يو اجمال وي.

د اول فصل يادداشتونه:

1) راورټي، هنري، پښتو ګرامر، مقدمه مخ ٤
2) ابوالفضل، آئين اکبري مخ ٤٠٦و ٤٠٧
3) درويزه اخون، تذکرة الابرار والاشرار مخ ٨٣و ٨٤
4) هروي، خواجه نعمت الله، تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني، ټوک ١ مخ ٦٣-١١٥
5) ونسيتارټ، آسيائي څېړنې، ټوک ٢ مخ ٦٧ کال ١٧٨٤
6) هم دا اثر هم دا مخ
7) رابنز، د ژبپوهنې لنډ تاريخ مخ ١٣٤
8) برنز، اليګزنډر، بخارا ته سفر، ټوک ١ مخ ١٦٢-١٦٤ لندن کال ١٨٣٤
9) برنز، کابل، مخ ١٠٩ (لاهور، دوهم چاپ کال ١٩٦١ اول چاپ
10) مور کرافټ، ويليم، سفرونه ټوک ٢ مخ ٣٥٣
11) هم دا اثر مخ ٣٤٨
12) ميسن، چارلز، د مختلفو سفرونو خاطرات، ټوک ١ مقدمه مخ ٤١و ٤٢
13) روز، جورج، افغانان، لس قبيلې او د شرق سلطانان، مخ ٧٩
14) هم دا اثر م-١-٢٤
15) هم دا اثر مخ ٢٧
16) هم دا اثر مخ ٣١
17) هم دا اثر مخ ٤٢و ٤٣
18) هم دا اثر مخ ٤٣
19) هم دا اثر مخ ٣٥-٣٦
20) بيليو، د افغانستان د قوم پېژندنې مطالعه، مخ ١٩٠
21) بيليو، د افغانستان طوائف، مخ ١٥
22) بيليو د افغانستان د قوم پېژندنې مطالعه مخ ١٣و ١٤
23) منهاج الدين، طبقات ناصري، د راورټي انګرېزي ترجمه، ټوک ١ مخ ٣١٣
24) راورټي، د افغانانو د اصل او ريښې په باره کښې څنې تبصرې، د بنګال د آسيائي ټولنې مجله، کال ١١٨٥٤ نمبر ٦
25) راورټي، پښتو ډکشنري، مقدمه مخ ١١و ١٢
26) د يهوديانو دائرة المعارف مخ ٢٢٣-٢٢٤
27) ابوالفضل، آئين اکبري، انګرېزي ترجمه، ټوک ٢ مخ ٤٠٧
28) فرشته، محمد قاسم، تاريخ فرشته، د برګز ترجمه، ټوک ١، مخ ٤
29) ډورن، برنارډ، د افغانانو تاريخ، يادداشتونه، مخ ٦٤، حاشيه ١
30) ملکم، جان، د فارس تاريخ ټوک ١ مخ ٥٩٦
31) په افغانستان او شاوخوا ملکونو باندې د مغلو له يرغل او تسلط نه وروستو، د افغانستان په ګرمسېر او شاوخوا سيمو کښې مغلو په يوۀ يا بل شکل واکداري کړې او د سيمې له خلقو سره ګډ شوي دي او په خپلو فوځونو او لښکرونو کښې ئې هم ډېر زيات محلي خلق، په تېره بيا پښتانۀ ځائے کړي دي. د سيمې د مؤلفينو او مؤرخينو ليکنې داسې ښيي چې په ډېرو مواردو کښې د فوځ د سر خلق مغل دي. خو نور فوځيان ئې اکثره افغانان دي او لکه څنګه چې برنارډ ډورن اټکل کړے دے په ډېر غالب ګمان هم دا اختلاط د دې سبب شوے دے چې يو شمېر مؤلفين افغانان او د سيمې څنې نور خلق مثلاً جرمائييان هم مغل وګڼي. خپله د افغانانو له اصل او نسب سره عدم بلديت د دغو مؤلفينو قضاوت زياتره متاثر کړے دے. بايد ووئيل شي چې د دې مؤلفينو په آثارو کښې افغانان او جرمائييان، په پرله پسې ډول، څنګ په څنګ ياد شوي دي او تر کوم حده چې ماته معلومه ده د جرمائييانو د اصل او نسب د څرګندولو په باره کښې تر اوسه هم کومه د يادونې وړ څېړنه نۀ ده شوې.

32) کتبي، محمود، تاریخ آل مظفر مخ ٤٤
33) هم دا اثر مخ ۳۲و۳۳
34) د دې کلمې په معنٰي نۀ زۀ پوه شوم او نۀ د تاریخ آل مظفر مهتمم څۀ پرې وئیلي دي.
35) کتبي، تاریخ آل مظفر، مخ ۳۷
36) میر خواند، تاریخ روضة الصفا، ټوک ٤ مخ ٤٧٤
37) ډورن، د افغانانو تاریخ، یادداشتونه، مخ ٦٦و٦٧ (انګرېزي)
38) هم دا اثر هم دا مخ
39) کروسنسکي، د یوۀ سیاح خاطرات، مخ ۲۱-۲۳
40) کیپل، جورج، سفرنامه، ټوک ۱ مخ ۲۰۳و۲۰٤
41) بیلیو، د افغانستان د قوم پېژندنې مطالعه مخ ۲۰٤-۲۰۷
42) برهان، محمد حسین، برهان قاطع، ټوک ۳، مخ ۱۷۳۹، د دکتور معین په اهتمام تهران ۱۳٦۲
43) ډورن، مخکښې یاد شوے اثر مخ ۷۱
44) الفنستین، د کابل سلطنت، مخ ۱۵٤-۱۵٦
45) هم دا اثر مخ ۱۵٦ حاشیه ۲
46) هم دا اثر مخ ۱۵۷
47) هم دا اثر مخ
48) ملکم، جان، د فارس تاریخ ټوک ۱ مخ ۵۹۷
49) ډورن، مخکښې یاد شوے اثر مخ ٦۵
50) هم دا اثر مخ ۷۲
51) هم دا اثر هم دا مخ
52) هم دا اثر مخ ٦٦-۱۷
53) هم دا اثر مخ، ۷۹
54) هم دا اثر مخ ۷۲
55) ملکم، جان، د فارس تاریخ ټوک ۱ مخ ۵۹۷